ستاسو ډاکټر تاسو نن ورځ په بیړني ډول روغتون ته لیږلي ترڅو ستاسو نښې وڅیړي. ځکه چې دا بیړنی ده تاسو به په دوه اونیو کې په روغتون کې د ملاقات وخت ترلاسه کړی. دا کیدای شي د کلینیک د لیدو لپاره وي چې د متخصص ډاکټر سره لیدنه وکړي یا د تشخیصي ازمویني لپاره، د بیلګې په توګه د کیمرې ازموینه

ډیری عام شرایط شتون لري چې ستاسو نښې نښانې ورسره تړل کیدی شي، په شمول د سرطان. په هرو 10 کسانو کښې له 9 څخه ډیر په دې طریقه راجع شوي به د سرطان تشخیص ونه کړي، په هرصورت، دا مهمه ده چې مونږ هر هغه شرایط ژر تر ژره وپیژنو چې ممکن درملنې ته اړتیا ولري.

تاسو به په راتلونکو څو ورځو کې له روغتون څخه واورې چې د لیدو وخت تنظیم کړی. که تاسو په 10 ورځو کې هیڅ شی نه وي اوریدلی نو بیا په دې لیک کښې ورکړی د ټلیفون شمیره باندی د خپل GP سکرټر سره اړیکه ونیسی. دا ډیره مهمه ده چې تاسو په دې ملاقات کې د ګډون لپاره هره هڅه وکړی.

تاسو ممکن په روغتون کې ځینې ازموینو ته اړتیا ولری کوم چې کولی شي متخصص سره مرسته وکړي چه هغه پدی پوه شي چې ستاسو نښې څه شی کیدی شي. دا ازموینې کیدی شي:

- د وینې معاینات
- ایکس رې
- سکینونه(CT/MRI)
- د کیمرې ازموینې

که تاسو سکین یا کیمرې ازموینې ته اړتیا لری تاسو ته به دمخه وویل شي ، نو مهرباني وکړی تاسو ته درکړل شوي لارښووني تعقیب کړی. تاسو ته ممکن هوم په دغه ورځ پایلې درکړل شي. متخصص به وکولی شي تاسو ته نور معلومات درکړي او مشوره ورکړي چې راتلونکي ګامونه به څه وي.

تاسو ممکن غواړی یو ملګری یا د کورنۍ غړی له ځان سره راولی. دا ممکن ګټور وي که تاسو کومه پوښتنه لری چې طبي ټیم تاسو سره خبرې کوي. که تاسو د خپل راجع کولو په اړه کومه اندیښنه یا پوښتنه لری نو مهرباني وکړی خپل GPسره اړیکه ونیسی.

که تاسو د بیړني راجع کولو په اړه نور معلومات غواړی نو مهرباني وکړی ددی ویب پاڼری لیدنه وکړی:
http://www.cancerresearchuk.org/cancer-symptoms/what-is-an-urgent-referral

په داسې حال کې چې ستاسو د لیدو لپاره انتظار کوی، دا سپارښتنه کیږي چې تاسو هڅه وکړی خپلو عادي فعالیتونو / تمرینونو ته دوام ورکړی. که نورې درملنې ته اړتیا وي، ستاسو د درملنې یوه مهمه برخه به ستاسو د فټنس اصلاح کول وي - لکه د سګرټ څکول بندول او د فعالیت کچه ښه کول.